# ضمیمه 2

## ستاسو ډاټا او معلومات تنظیمول: د PAF د تحلیل پروسه تشریح شوې

دا تحلیلي چوکاټ نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د سازمان (USAID) له لارې د امریکا د خلکو په سخاوتمندانه مرستو سره ممکن شوی دی. منځپانګه یې د IRC-DRC پروژې مسوولیت دی، د نړیوال حفاظت د کلسټر لپاره د معلوماتو او تحلیل د کاري ډلې سره په همکارۍ کې، او ضروري نده چې د USAID یا د متحده ایالاتو د ددولت نظرونه انعکاس کړي.

# د PAF د تحلیل پروسه تشریح شوې

دا ضمیمه، *ستاسو د ډاټا او معلوماتو تنظیمول: د PAF د تحلیل پروسه تشریح شوې*، تشریحوي چې PAF څرنګه عمل کې په کار واچول شوي، عُمدتاً د ډاټا او معلوماتو د تنظیمولو په لړ کې. "ډاټا" د داسې حقایقو لکه اعدادو، اندازو او مشاهدو یوه مجموعه ده. "معلومات" د یوې موضوع په اړه حقایق یا جزییات دي (د PIM عامه ټرمینولوژي، 2018).

د PAF د څلورو ستنو څخه هرې یوې لپاره دا ضمیمه پینځو پوښتنو ته ځواب وايي (جدول 2.1A).

**جدول 2.1A د PAF د هرې ستنې لپاره د پوښتلو پوښتنې**



- نور سکټورونه او ډسپلینونه څه برابرولی شي؟
- څه راوسپړل شي؟
- مونږ څه نتیجه ګیري کوو؟
- کومې کلیدي پوښتنې وپوښتل شي؟
- دا ولې مهم دی؟


څلور ستنې دادي:

- سیاق و سباق
- نفوس ته اوسنې ګواښونه
- په نفوس د ګواښ اغېزې
- د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره موجود ظرفیتونه

وړاندیز شوې د پیل نقطه یو انفرادي حفاظتي ګواښ معلومول او ددغه ځای نه مخته تعمیرول دي. په اړونده ډاټا او معلوماتو کې باید د هغو جغرافیایي موقعیتونو جزییات شامل وي چیرته چې ګواښ موجود وي، د نفوس اغېزمنې شوې ډلې، د ګواښ عواقب، او د ګواښ د حل کولو لپاره موجود ظرفیتونه. په یو ځانګړي سیاق و سباق کې بنایي ګڼ شمېر حفاظتي ګواښونه موجود وي، کوم ته چې تاسو بنایي لومړیتوب ورکولو ته اړتیا ولرئ تر څو په تحلیل مناسب تمرکز یقیني شي.

د PAF ستنې د ډاټا او معلوماتو په تنظیمونه کې لارښوونه کوي. د کلیدي مفاهیمو یوه لغتنامه او د ستنو یوه تشریح ترتیب سره په پېژندنه او ضمیمه 1 کې موندل کېدلی شي. جدول 2.2A ډاټا او معلوماتو ته د جوړښت ورکولو پروسه واضحه کوي. دا تاکید کوي چې تاسو باید د ګواښ د معلومولو څخه په پیل کولو سره ډاټا او معلومات د یوې رواني او ګردشي پروسې په توګه تنظیم او تفسیر کړئ.

**جدول 2.2A د ډاټا او معلوماتو د تنظیمولو منطقي پروسه**



د اړوندي ډاټا او معلوماتو د تنظیمولو نه وروسته، وړاندیز شوي تحلیلي پوښتني د انعکاس د پروسي او د هغي په یو سیاق او سباق کي د ځېلولو لارښوونه کوي. ددی لارښود "کومي کلیدي پوښتني وکړی شي" برخي د هري ستني لپاره ځیني مهمي انعکاسي پوښتني په ګوته کوي؛ ولي لا زیاتي دانه دانه پوښتني د ضمیمه 1 د تحلیلي پلان په ټب کي موندل کېدلی شي.

## جدول 2.3A ددي بیلګه چي PAF ته څرنګه کړنلاره خپله کړی شي

جدول 2.3A ددي یوه بیلګه وړاندي کوي چي د PAF مشخصي سرچیني څرنګه بنایي د انعکاس په کلیدي لمحو کي ګټوری وي.



# ستن: سیاق و سباق

حفاظتي خطرو ته په مناسب ډول غبرګون ښودلو لپاره مونږ باید هغه فاکتورونه او د سببونو ریښې معلومې او تحلیل کړو کوم چې د حفاظتي خطرو محرک وي.[1]

معلومات باید په ټولو درې فرعي ستنو کې تحلیل کړی شي (جدول 2.4A). په یاد ولرئ چې تحلیلي پروسه یو څرخ دی. د سیاق و سباق فرعي ستنو سره اړونده ډاټا او معلومات باید په باقاعده توګه وازمایل شي تر څو ستاسو د حفاظتي تحلیل څخه نتایجو ملاتړ وشي.

دا ولې مهم دی؟

جدول 2.4A **سیاق و سباق: فرعي ستنې**

**اداري، قانوني، او اصولي منظره**

**تبعیضي، زیانمن یا حفاظتي** اصولي او قاعدتي چوکاټونه او میکانزمونه

+

**سیاسي او ټولنیزه-اقتصادي منظره**

**سیاسي توان ورکوونکي یا محرکات** د اوسنیو حفاظتي ګواښونو

+

**د شخړې او/یا خطر تاریخ**

**تاریخ، د حفاظتي ګواښونو تېرې پېښې او/یا میلانات** چې په جغرافیایي موقعیتونو او/یا د نفوس ډلو اغېز کوي

## د شخړې او/یا خطر تاریخ

داسې تاریخي ډاټا یا میلانات پېژندل او تحلیل کول چې د نفوس مشخصو ډلو یا جغرافیایي سیمو ته حفاظتي ګواښونو او ددغو ګواښونو عواقب ښکاره کوي. د شخړې او/یا خطر د تاریخ سره اړوندو زیاتو تفصیلي پوښتنو د یو لیست لپاره وګورئ په ضمیمه 1 کې د تحلیل د پلان ټب.

کومې کلیدي پوښتنې وپوښتل شي؟

- د هغو بیا بیا راتلونکو حفاظتي ګواښونو او/یا فاکتورونو کوم چې خدمتونو ته د لاسرسي مخنیوی کوي یا یې توان ورکوي په اړه تاریخي ډاټا څه ښکاره کولی شي؟
- د هغو ممثلانو چې د حفاظتي ګواښونو مسوول دي او د ملکي ولس ترمینځ د قدرت ډینامکونه او ټولنیزې اړیکې څه دي؟ په کړکیچونو، د مذاکرې موجودو پروسو، د شخړې د حل میکانزمونو، د احتساب جوړښتونو او داسې نورو غور وکړئ.
- د سولې او ثبات د پروسو کوم اړخونه (رسمي او/یا غیر رسمي) د نفوس په ډلو او جغرافیایي موقعیتونو تاثیر کوي؟ آیا دا تاثیرات مثبت دي که منفي؟

## سیاسي او ټولنیزه-اقتصادي منظره

هغه سیاسي او ټولنیز-اقتصادي وضعیت او میلانات معلوم او تحلیل کړئ کوم چې د حفاظت په خطرو اثر اچوي. په هغو فاکتورونو تمرکز وکړئ کوم چې ښایي د حفاظت خطرې تحریک کړي، تشدید یا کمې کړي. همداراز په هغو فاکتورونو غور وکړئ چې د مقابلې یا د خطر د کمولو په انفرادي یا ټولنیزو ظرفیتونو اغېز کوي. په داسې حال کې چې معلومات د سیمې پر اساس کېدلی شي، د ملي کچې معلومات بیا هم د سیمې پر اساس ډینامکونو باندې پوهېدلو کې مهم دي.

- آیا داسې مشخص سیاسي، ټولنیز یا اقتصادي فاکتورونه شته چې یو مشخص نفوس ته متوجې ګواښونه تشدیدوي یا کموي؟
- کوم شریکوالان او/یا د قدرت ډینامکونه مشخص حفاظتي خطرې تحریکوي یا توان ورکوي؟
- د نفوس مشخصو ډلو لپاره کوم میکانزمونه، د ګډون سیستمونه یا چینلونه، غږ او احتساب موجود دي؟ د بېلګې په توګه، ټولشموله او د ګډون بودیجه او د سیمه ییزې پرمختیا پروسې، انتخابي سیاست، مدني سازمانونه کوم چې د ټولنې له طرفه وکالت کوي.

1 د ICRC مسلکي معیارونه (2018:40)

## اداري، قانوني، او اصولي منظره

هغه قوانین، مقررات او ټولنیزې تګلارې پېژندل او تحلیل کول کوم چې مشخصې حفاظتي خطرې ښایي رامینځته یا بدترې کړي. همداراز ددې قوانینو، مقرراتو او تګلارو هغه اړخونه پېژندل او تحلیل کول چې دغه حفاظتي خطرې ښایي کمې کړي. په دې غور کول چې په داسې حال کې چې حفاظتي قانون یا مقرراتي چوکاټ ښایي موجود وي، اما اصلاً د هغوی د نفاذ میکانزمونه ښایي کار نه کوي.


- کوم رسمي او غیر رسمي قوانین، مقررات، اصول یا ټولنیز عملونه په نفوس اغېز کوي (زیانمن، تبعیضي یا حفاظتي میکانزمونه).
- آیا داسې مشخص ملي قوانین شته چې د حفاظتي خطرو محرک کېږي؟ آیا داسې قوانین نشته کومو چې د حفاظتي خطرو مخه نیولې شوه یا یې کمولې شوې؟
- آیا داسې نور ټولنیز، دیني یا کولتوري اصول یا عملونه شته چې حفاظتي خطرې تحریکوي؟



مونږ څه نتیجه ګیري کوو؟

په داسې حال کې اکثر چې تحلیل تل یوه نېغه کرښلاره نه تعقیبوي، یوه د سیاق او سباق پوهېدنه د کلیدي ګواښونو، په نفوس د ګواښونو د اغېزو، او د ګواښ د حل کولو لپاره د ظرفیتونو په پېژندلو او پرې پوهېدلو کې مرسته کوي (وګورئ جدول 2.2A). ددې ستنې دننه تنظیم شوې ډاټا او معلومات د یو حفاظتي خطر شاته مفروضو په تعریفولو او واضحه کولو کې مرسته کوي. دا لدې امله په دې اړه معلوماتو کې مرسته کولی شي چې ستونزه څرنګه حل کړی شي. د سیاق و سباق د تحلیل د پیلولو نه مخکې موجوده ډاټا او معلومات معلوم کړئ کوم چې به

تاسو سره ستاسو د معلوماتو د اړتیاو په نور واضحه کولو کې مرسته وکړي. د سیاق او سباق اکثریت تحلیل لپاره د اولنۍ ډاټا غونډول لازمي نه وي، بلکې د حفاظت د مشخصو خطرو په اړه د موجودو معلوماتو غونډول او تنظیمول وي. د ډاټا او موضوع د ماهرینو (لکه تاریخپوهانو، انسان پوهانو، د سیاق و سباق ماهرینو، د مدني ټولنې نقش لوبوونکو) سره سره له اړوندو کولتوري ماهرینو سره مشوره وکړئ.[2] د زیانمنو، تبعیضي او/یا حفاظتي سیاق و سباق فاکتورونو په اړه ستاسو تحلیل به د PAF د نورو ستنو دننه د نتیجو معلومات ورکړي. تاسو به د هرې ستنې څخه شریک نتیجو ته کتنه کوئ تر څو په عموم کې په وضعیت د پوهېدنې معلومات ورکړئ.



نور سکټورونه او ډسپلینونه څه برابرولی شي؟

هغه ډاټا او معلومات کوم چې تاسو سره د هغه سیاق و سباق په پوهېدلو کې مرسته کوي په کوم کې چې د حفاظت خطرې رامینځته کېږي ښایي د مختلفو سیکټورونو او ډسپلینونو څخه وي.

د ډاټا او معلوماتو احتمالي سرچینو کې شامل دي:

- د ملي نزاکت تحلیلونه (OECD، تینک ټینکس، او داسې نور)
- میلانات (پوهنتونونه، ملي غیر دولتي غیر انتفاعي موسسې، د تګلارې د څېړنې انسټیټیوټونه، HNOs/HRPs)
- حقوقي تحلیل (حقوقي خدمتونو په اړه د راپورونو څارنه کول، د IHL/IHRL ممثلین، او داسې نور)
- ملي او سیمه ییز نظرونه (د مدني ټولنې مشران، تینک ټینکس یا د څېړنې انسټیټوټونه، سیمه ییز همکاران، او داسې نور)

2 تحلیل لپاره د طرحې جوړولو د یوې لا زیاتې تفصیلي تشریح لپاره وګورئ په ضمیمه 1 کې د تحلیل د کاري بهیر ټب کې قدم الف.

# ستن: نفوس ته اوسني ګواښونه

د کلیدي افرادو او ادارو د رول تحلیل کول مهم دي، په ګډون د ریاستي او غیر راستي ممثلینو، د هغوی د رولونو او مسوولیتونو او دا چې د هغوی د چلندونو او رویو محرک څه دی. دا تاسو په دې پوهوي چې په یو مشخص خطر د چا تاثیر دی، په ګډون د حقونو تاوتریخوالو او ناوړه استفادو. توجو وکړئ چې *مسوولیت* ښایي د ارتکاب عملونه (قصدي عمل) یا حذف (عمل کولو کې ناکامي) وي.

د ګواښ د پېژندلو لپاره مونږ باید په خپله د ګواښ نوعیت وپېژنو، دا چې څوک/څه د ګواښ مسوولیت لري او د ګواښ اصلیت (جدول 2.5A).

دا ولې مهم دی؟

جدول 2.5A **نفوس ته اوسني ګواښونه: فرعي ستنې**

| **د ګواښونو اصلیت** | | **ګواښ لپاره مسوول اصلي ممثلین** | | **حفاظتي خطرې** |
|---|---|---|---|---|
| **محرکونه، چلوونکي**، او موجود **اصول** کوم چې هر ګواښ رامینځته کوي، مخته یې بوځي او دوام ورکوي. | + | د هغو ممثلینو د **رول، تراو، او انګیزو سره مربوط فاکتورونه** کوم چې ګواښ رامینځته کوي، او همداراز د هغو ممثلینو چې د حفاظت کولو او مرتکبینو سره د حساب کولو مشخصي وظیفي لري. | + | پېژندل شوي **انساني فعالیتونه یا د انساني فعالیت محصول** کوم چې دا مهال د تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومی د یوې بنې سبب کېږي. |

## حفاظتي خطرې

هغه بشري فعالیتونه یا د بشري فعالیتونو محصولات وپېژنئ او تحلیل کړئ چې نفوس ته د زیان سبب کېږي. دې معلومولو لپاره احتیاط سره په ډاټا او معلوماتو غور وکړئ چې آیا یوه ځانګړې مسله په خپله حفاظتي ګواښ دی یا د حفاظتي ګواښ اغېز دی. د بېلګې په توګه، یو ګواښ ښایي یوې مشخصې ډلې ته د تابعیت څخه خپلسری انکار یا یې ترې محروموول وي، او اغېز یې ښایي ددغې ډلې ځینو خاصو د مدني حالت اسنادو ته د لاسرسي نشتوالی وي. د ګواښ یوه بله بېلګه یوه غیر ریاستي وسله واله ډله ده چې ماشومان تښتوي، د کوم نتیجه چې دا وي چې ماشومان د تښتول کېدو د ګواښ څخه ځان ژغورلو لپاره ښوونځي ته نه ځي. د اضافي بېلګو لپاره وګورئ ضمیمه 1 کې د مفاهیمو د میتریکس ټب.

کومې کلیدي پوښتنې وپوښتل شي؟

- هغه کوم ګواښونه دي چې دا مهال اغېزمنو نفوسونو لپاره د تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومی سبب کېږي؟ په کومو جغرافیایي موقعیتونو کې؟
- آیا دغه ګواښ یو انفرادي چلند یا اقدام دی، د یو سازمان یا ډلې عمل دی، یوه غیر دولتي یا دولتي تګلاره ده؟

## ګواښونو لپاره مسوول اصلي ممثلین

د یو مشخص حفاظتي ګواښ شاته چلندونه، عملونه یا تګلارې معلومې او تحلیل کړئ. په دوی کې ښایي د هغه ممثل(هغو ممثلینو) چلندونه شامل وي چې نفوس ته نېغ په نېغه زیان رسوي، د حفاظت د مشخصو مسوولیتونو لرونکی(لرونکي) ممثل(ممثلین)، او د ګواښ په راپېښېدو مثبت یا منفي تاثیر لرونکی(لرونکي) ممثل(ممثلین). مشخصې پوښتنې باید د *څوک؟ څه؟* او *ولې؟* په پېژندلو کې لارښوونه وکړي لکه:

- هغه ممثلین چې نېغ په نېغه د ګواښ سبب کېږي څوک دي؟ د هغوی انګیزې او هڅونې چې د هغوی د عملونو سره مربوطې وي څه دي؟ آیا د هغو ممثلینو چې نېغ په نېغه د عمل مرتکب کېږي او د اغېزمنو خلکو ترمینځ کوم مشخص ارتباط شته؟ آیا دا ارتباط د سیاق و سباق د کچې د میلاناتو محصول دی، داسې لکه په اتنیکي تبعیض کې نمونې؟
- آیا هغه ممثل چې د زیان د حل کولو، کمولو یا مخنیوي کولو مسوولیت لري تول هغه څه کوي چې د خپل ظرفیت دننه یې کولی شي؟ که نه، ولې نه؟ که بلې، نو ګواښونه، تاوتریخوالی یا ناوړه استفاده ولې ادامه لري؟

## د ګواښونو اصليت

د حفاظتي ګواښ د مشخصو سببونو ربيني او محرکونه وپېژنئ او تحليل کړئ. د ګواښ د محرکينو او همداراز نفوس لپاره د فوري عواقبو او پرې د اغېز په حل کولو سره حفاظتي خطر ته په غبرګون ښودلو سره په بهترينه ستراتيژۍ د پوهېدنې لپاره دا معلومات وکاروئ.

- د حفاظتي خطر نوعيت څه دی (يعني آيا هغوی عمدي دي، همغږي شوي يا فرصت طلب دي)؟
- کوم فاکتورونه د ممثلينو د هغو چلندونو محرک دي چې نېغ په نېغه د ګواښ سبب دي يا د هغو ممثلينو چې په ګواښ اثر او رسوخ لري؟
- ګواښ، يا د ممثلينو چلندونه، انګيزې يا تاکتيکونه د وخت په تېرېدو څرنګه بدل شوي؟



څه راوسپړل شي؟

په ضميمه 1 کې د مفاهيمو د ميټريکس ټب د حفاظتي ګواښونه عمومي تعريفونه وړاندې کوي او هدف يې دا دی چې مختلفو حفاظتي مفاهيمو کې وضاحت راولي او دا چې هغوی څرنګه د حفاظتي خطرې د معادلې او مختلفو حقوقي (بشري حقونو او نړيوال بشري قوانين) د چوکاټونو د اړخونو سره تړاو لري. د مفاهيمو د ميټريکس ټب کې هر حفاظتي ګواښ يا د تاوتريخوالي، يا د جبر يا عمدي محرومۍ يو عمل دی، او هر يو، کله چې امکان لري، د بشري حقونو د قانون او بشري قانون


يو متعلقه قانون سره تړون لري. حقوقي چوکاټونو سره تړونونه تاسو سره ددې خبرې په معلومولو کې مرسته کولی شي چې په غبرګون، کمولو او چاپېريال جوړولو متمرکز د خطر د کمولو مشخصې ستراتيژۍ کله او څرنګه تطبيق کړی شي (د Protection Egg موډل سره په رديف کې).[3] ددې ستنې د کارولو لپاره يوه وړانديز شوې پروسه په لاندې ډول ده:

1. حفاظتي ګواښونه په يو ځل کې يو تحليل کړئ. مشخص واوسئ او د حفاظتي ګواښونو د عمومي کولو څخه ډډه وکړئ. د ډاټا په تنظيمولو کې لارښوونې لپاره ضميمه 1 کې د تحليل د پلان او د مفاهيمو د ميټريکس د ټبونو څخه کار واخلئ.
2. که اړينه وه، نور د مفاهيمو ميټريکس کې تعريف شوي حفاظتي ګواښ ته ستاسو د خپل سياق و سباق له مخې بياکتنه وکړئ يا کوم چې يکې نه وي نو هغه يکې وراضافه کړئ، ځکه چې ليست انحصاري نه دی.
3. ستاسو د تمرکز په جغرافيايي سيمه اتکاء سره، تاسو ښايي هغه ګواښونه معلوم کړئ کوم چې په يو مشخص موقعيت يا يوه پراخه جغرافيايي سيمه تطبيق کوي. په دې غور وکړئ چې آيا د ګواښ رامېنځته کوونکي، وده ورکوونکي يا ادامه ورکوونکي فاکتورونه په دې تړاو کې چې ګواښ څرنګه محلي کړی شوی دی توپير لري، يا نور داسې ستر فاکتورونه شته چې په ګواښ اغېز کوي. برسېره پر دې، وخت په وخت د خپل تحليل اپډېټ کول ياد وساتئ ځکه چې داسې کېدلی شي چې د ګواښ محرک فاکتورونه او ډاينامکونه د وخت په تېرېدو تکامل کوي.



مونږ څه نتيجه ګيري کوو؟

"نفوس ته د اوسنيو ګواښونو" د تحليل څخه تحليلي نتيجې به په مختلفو جغرافيايي موقعيتونو او د نفوس ډلو کې تاوتريخوالي او ناوړه استفادې په واضح ډول معلومې کړي. د تاوتريخوالي، جبر او/يا عمدي محرومۍ، او د ټولو ښکېلو ممثلينو (رياستي او غير رياستي) د رول د نمونو په اړه ابتدايي نتيجو ته رسېدل په حفاظتي خطرو د پوهېدنې او همداراز د هغوی د حل کولو د تر ټولو زياتو مناسبو ستراتيژيو لپاره يو مهم قدم دی.



نور سکټورونه او ډسپلينونه څه برابرولی شي؟

هغه ډاټا او معلومات کوم چې تاسو سره په حفاظتي ګواښ پوهېدلو کې مرسته کوي ښايي د مختلفو سيکټورونو او ډسپلينونو څخه وي.

د ډاټا او معلوماتو احتمالي سرچينو کې شامل دي:

- د سيمه ييزو چارواکو (ملي همکارانو، CBOs/NGOs، اغېزمن شوي نفوس) رول او عملونه
- سياسي تحليل (د ملکيانو د حفاظت ډاټا، پوهنتونونه، د ټکلارۍ د څېړنې انستيټوټونه، او داسې نور)
- د روغتيا او احتساب د ادارو (د حکومتدارۍ پروګرامونو، د ظرفيت د ملاتړ پروګرامونو او داسې نورو) په اړه د حکومتدارۍ معلومات
- د ښځې د تحليل ډاټا (د سولې د جوړولو پروګرامونه، د بشري حقونو څارنه، او داسې نور)

3 The Protection Egg د ناوړه استفادې په وړاندې غبرګون کې د اقدام د درېو کچو يوه ګرافيک وړاندوينه ده: د راپېښېدو دروړ يې، قربانيانو سره څنګ په څنګ کار کول، او د تکرار د احتمال د کمولو چاپېريال کې دوامداره بدلونونو ته وده ورکول (د ICRC مسلکي معيارونه، 2018:8).

# ستن: په نفوس د ګواښ اغېزې تحلیل کړئ

دا ولې مهم دی؟

ددې خبرې یقیني کول مهم دي چې مونږ. ددې یوه بشپړه او د سیاق و سباق په محرک پوهېدنه ترلاسه کړو چې په هر خاص سیاق و سباق کې څوک په خطر کې دی، څکه داسې ډېر فاکتورونه شته چې ښايي ځینې خلک او ډلې په ځینو خاص سیاق و سباق کې د نورو څخه په زیات خطر کې واچوي. تحلیل باید په هغو مختلفو طریقو غور وکړي په کومو کې چې ګواښ ښايي د نفوس په ځانګړو ډلو اغېز وکړي.

خلک د نفوس د ډلو د فزیکي موقعیت، د هغو فعالیتونو چې مختلف نفوسونه یې ښايي ترسره کوي (په ګډون د هغه وخت او ځای په کوم کې چې ترسره کیږي) او سرچینو او/یا خدمتونو ته د لاسرسي د کچې له امله ځینو خاصو ګواښونو سره ښايي زیات مخامخ کړی شي. دا چې مشخص ګواښونه په خلکو څرنګه اغېز کوي دې ته جنسیت، عُمر، معلولیت، جنسي میلان، ژبه، سرچینو ته لاسرسی، ټولنیز، اتنیکی، دیني یا سیاسي ارتباط یا نور د سیاق و سباق سره مشخص فاکتورونه بڼه ورکوي.[4] جدول 2.6A درې فرعي ستنې ښکاره کوي:

جدول 2.6A **په نفوس د ګواښ اغېزې تحلیل کړئ: فرعي ستنې**

| د اغېزمن شوي نفوس د مقابلې ستراتیژۍ | | د ګواښ عواقب | | د اغېزمن شوي نفوس ځانګړتیاوې |
|---|---|---|---|---|
| **د ګواښ د پېژندل شوو عواقبو په وړاندې** د اغېزمن شوي نفوس **غبرګونونه** (مثبت/منفي). | + | **د نفوس د هرې ډلې او اغېزمن شوي موقعیت لپاره** د ګواښ اغېزې او عکس العملونه. | + | پېژندل شوي **د نفوس ډلې** او **جغرافیايي موقعیتونه**، د یو حفاظتي ګواښ لخوا اغېزمن شوي، او د هغوی موجوده **حرکتي نمونې او مخامخ کېدنه** |

## د اغېزمن شوي نفوس ځانګړتیاوې

کومې کلیدي پوښتنې وپوښتل شي؟

د حفاظت تحلیل باید ستاسو په دې دقیقه پوهېدنه کې مرسته وکړي چې څشی د نفوس یوه ډله په یو موشخص جغرافیايي موقعیت کې د پېژندل شوي ګواښ په وړاندې آسیب پذیر کوي. توجو وکړئ چې خلک یو ګواښ سره په مخامخ کېدو کې توپیر لري چې ددې اتکاء په مختلفو هویتونو چې هغوی یې لري یا هغو هویتونه چې هغوی ته یې نسبت ورکړی شوی وي باندې ده، لکه د هغوی ټولنیزه ډله، جنسیت، قومیت یا عُمر. آسیب پذیري باید ثابته یا جامده ونه ګڼل شي.

- څوک د ګواښ څخه اغېزمن کیږي؟ د ګواښ څخه اغېزمن شوو د نفوس د مختلفو ډلو مشخصې ځانګړتیاوې څه دي (ډموګرافي، موقعیت، حرکتونه او ګواښ په معرض کې)؟
- خلک څرنګه په توپیر سره اغېزمن کیږي؟ آیا ځینې خلک د ګواښ څخه د زیات زیان په خطر کې دي، د مقابلې کم توان لري یا په زیات فوري ډول اغېزمن کیږي؟

## د ګواښ عواقب

د نفوس د ځانګړتیاو تحلیل باید ستاسو په دې پوهېدنه کې لارښوونه وکړي چې هر ګواښ په نفوس ولې او څرنګه اغېز کوي. د نفوس په مختلفو ډلو د یو ګواښ اغېز ډېر شکلونه اخیستلی شي، او لاندې پوښتنې ښايي دا خبره څرګنده کړي چې مختلف خلک ګواښونه څرنګه تجربه کوي، او دا چې ګڼ شمېر ګواښونه څرنګه کېدلی شي چې یو بل سره مربوط وي:

- په اغېزمنه ډله د ګواښ فزیکي اغېزې څه دي؟
- په اغېزمنه ډله د ګواښ ټولنیزې او عصبي-ټولنیزې اغېزې څه دي؟
- په اغېزمنه ډله د ګواښ حقوقي یا مادي اغېزې څه دي؟

4 د ICRC مسلکي معیارونه (2018:41)

## د اغېزمن نفوس د مقابلې ستراتیژۍ

په دې اړه معلومات چې خلک څرنګه د یو ګواښ د مشخصو عواقبو سره مقابله کوي باید د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره په موجودو ظرفیتونو پوهېدنه کې ستاسو لارښوونه وکړي. په دې پوهېدل به مو د غبرګون په ستراتیژیو پوه کړي کومې چې د اغېزمنو خلکو په موجودو ستراتیژیو مخته ځي. غور وکړئ:

- د نفوس د هغو ډلو چې د حفاظتي ګواښونو څخه اغېزمني شوي دي د مقابلې ستراتیژۍ څه دي، او آیا د هغوی اغېزې مثبتې که منفي دي؟
- د ګواښ په اړه د خلکو تجربې او ادراکونه د وخت په تېرېدو څرنګه بدل شوي دي؟
- کوم ادراکونه، فکرونه، رویې یا باورونه د نفوس د هغو مختلفو ډلو چې د ګواښ له امله اغېزمني شوي دي د مقابلې د ستراتیژیو محرک دي؟ آیا هغه د وخت په تېرېدو بدلیږي؟




څه راوسیږل شي؟

د آسیب پذیرۍ سببونه پیچلي، ګڼ شمېر، په یو بل اوښتونکي او ډاینامک دي. یو متقاطع لینس تاسو په دې توانوي چې د مخکې نه تعین شوو آسیب پذیره ډلو په اړه د مفروضو او لاشعوري تعصباتو څخه هاخوا حرکت وکړئ. متقاطعیت یو داسې تحلیلي چوکاټ دی چې څرګندوي چې د ظلم بنې (داسې لکه نژاد پرستي، جنسي تبعیض، توان پرستي) څرنګه په یو بل اوړي، خاصې ټولنیزې ډلې تعریفوي. یوه تقاطعي کړنلاره فرض کوي چې معولیت، نژاد او قومیت، جنسیت یا نورو هویتونو سره په مربوطو زیانونو او تاوتریخوالي باندې د هغوی په جلا جلا مطالعه کولو سره پوره پوهېدنه نشي ترلاسه کېدلی (د معلولیت لرونکو خلکو په شمولیت د IASC لارښووني، 2019:10).

دې ستنې سره مربوطې تحلیلي پوښتنې له دې امله باید د داسې معلوماتو غوندولو لپاره وکارول شي کوم چې د پېژندل شوي مشخص حفاظتي خطر سره اړونده آسیب پذیري معلوموي. په دې اړه عمومي کولو څخه ډډه وکړئ چې کومې هویتي ډلې ښایي په ټوله کې آسیب پذیرې وي.

د اغېزمن نفوس او د ګواښ د عواقبو د ځانګړتیاو په اړه ډېر عام معلوماتو ښایي د ثانوي ډاټا څخه موجود وي، ولې دغې ته ښایي د پېژندل شوي مشخص خطر سره په کافي توګه تناسب نه وي ورکړی شوی. د عواقبو په اړه معلوماتو او په دې اړه مربوطو معلوماتو چې د نفوس یوه ډله څرنګه مقابله کوي باید تل د هغو معلوماتو سره څنګ په څنګ کتنه وشي کوم چې د سیاق او سباق او حفاظتي خطر د ستنو لاندې تنظیم شوي او تحلیل شوي وي. دا مرکب معلومات باید تاسو سره د هغې آسیب پذیرۍ (جدول 2.7A) د مشخصو فاکتورونو پېژندلو کې مرسته وکړي کومه چې پېژندل شوي خطر او په نفوس د لومړیتوب والا اغېزو سره مربوط وي.

**جدول 2.7A د آسیب پذیرۍ د فاکتورونو د معلوملو انعکاسي پروسه**




۷


ددي ستني د کارولو يوه ورانديز شوي پروسه په لاندي توګه ده:

1. د هغه تحلیل چي معلومات يي د "قیاس او سباق او اوسني ګواښونه" د ستنو څخه وي پر اساس هغه اغېزمني شوي ډلې او جغرافيايي موقعيتونه چي تمرکز پرې وي معلوم کړئ.
2. د هر پېژندل شوي حفاظتي ګواښ او د اغېزمن شوي نفوس د ځانګړتیاو په اړه د معلوماتو، د ګواښ د عواقبو او د اغېزمن شوي نفوس د مقابلې د ستراتیژیو ترمینځ ارتباطات تعین کړئ.
3. په ضمیمه I کې د مفاهیمو د میټریکس ټېونه وګورئ تر څو هغه مفاهیم راوسپړئ کوم چي ښايي د آسیب پذیرۍ او ظرفیت د پېژندونکو فاکټورونو لپاره مرستندویه وي.



مونږ څه نتيجه ګيري کوو؟

د اغېزمن شوي نفوس د ستني په اړه د ګواښ اغېزي باید د نفوس د کرامت، خوندیتوب او هوساینې د اوسنیو لومړیتوب والا اغېزو چې د نفوس په هره ډله او جغرافيايي موقعیت د مشخصو سرغړونو او ناوړه استفادو څخه کېږي تحلیلي نتیجې وړاندې کړي. دلته تحلیلي نتیجې باید ستاسو په دې پوهېدنه کې لاربښوونه وکړي چې د ځبرګون په هره ستراتیژۍ کې د نفوس کومو ډلو او کومو
جغرافیایي سیمو ته لومړیتوب ورکړی شي.



نور سکټورونه او ډسپلينونه څه برابرولی شي؟

هغه ډاټا او معلومات کوم چي تاسو سره په نفوس د ګواښ د اغېزو په پوهېدلو کې مرسته کوي ښايي د مختلفو سیکټورونو او ډسپلینونو څخه وي.

د ډاټا احتمالي سرچينو چي ښايي د معلوماتو اړتیاو کې مرسته وکړي دا شاملي دي:

- بشري اړتیاوې (د HNO/HRP میلانات، MIRA، نور ګڼ سکټوري، او داسي نور)
- ټولنیزه-اقتصادي ډاټا (د خوراک د امنیت سکټور، د غربت د تحلیل پروګرامونه، د نغدو پیسو پروګرامونه)
- مادي عواقب (استوګنځی، زمکه او شتمني د سیمي او مسوولیت ممثلین، د سرپناه سکټور، او داسي نور)
- ټولنیز او عصبي-ټولنیز عواقب (MHPSS، د روغتیا سکټور، SGBV ممثلین، د تعلیم سکټور، او داسي نور).

# ستن: د ګواښ د حل کولو لپاره موجود ظرفیتونه

د حفاظتي ګواښونو د حل کولو ظرفیتونه د ظرفیت ګڼ شمېر کچې ترکیبوي، د انفرادي څخه تر اداري پورې، په سیمه ییزه، ملي یا نړیواله کچه. د غبرګون تر ټولو زیاتې مناسبې او تاثیر لرونکې ستراتیژۍ د یقیني کولو لپاره په دې ظرفیتونو باید ځان پوه کړی شي.

تاسو په دې پوهېدلو ته اړتیا لرئ چې د حفاظتي ګواښ لپاره د مسوولو ممثلینو یا چارواکو په موجودو تګلارو، اقداماتو او عملونو کې دننه تشې چیرته دي. تاسو همدا راز د وظیفه لرونکو د خپلو مکلفیتونو د پوره کولو او د ستونزو د حل کولو په لړ کې د هغوی په ظرفیت، ژمنتیا او لېوالتیا پوهېدو ته اړتیا لرئ.[5] جدول 2.8A درې فرعي ستنې ښکاره کوي:

دا ولې مهم دی؟

**جدول 2.8A په نفوس د ګواښ اغېزې تحلیل کړئ: فرعي ستنې**

| اداري، نورم میکانزمونه، او د غبرګون ظرفیتونه | | سیمه ییز میکانزمونه، سیستمونه او ممثلین | | د اغېزمن شوي نفوس ظرفیتونه |
|---|---|---|---|---|
| هغه فاکتورونه چې د مسوولیت لرونکو ممثلینو **لېوالتیا** او **ظرفیتونه ښیي، او د** پېژندل شوو **حفاظتي ګواښونو** د کمولو او ورته د (ملي او نړیوال) غبرګون ښودلو عمومي جوړښتي ظرفیتونه | + | د هر حفاظتي ګواښ یا **د هغه د عواقبو د کمولو یا ورته غبرګون ښودلو لپاره** په **نږدې شاوخوا چاپېریال** (ټولنه، سیمه، ټیټه اداري کچه) کې اضافي فاکتورونه (قوتونه او سرچینې) | + | د **افرادو، کورنیو او/یا فامیلونو مهارتونه او پوهه تر څو د ګواښ** او د هغه د عواقبو سره مقاومت وکړي |

## د اغېزمن شوي نفوس ظرفیتونه

کومې کلیدي پوښتنې وپوښتل شي؟

د بحران له امله اغېزمن شوي افراد، د هغوی فامیلونه، کورنۍ او شبکې، عموماً بهترین موقعیت لري چې د خپلې پوهې، مهارتونو او سرچینو په کارولو سره د ګواښونو اغېزو ته غبرګون وښیي یا یې کمې کړي. ولې په ډېرو حالتونو کې اغېزمن شوي نفوسونه په مختلفو لاملونو خپلو ظرفیتونو څخه د کار اخیستلو کم توان لري (د بېلګې په توګه، د خدمتونو په اړه د اګاهۍ نشتوالی، سرچینې ختمې شوې وي، ټولنیزې شبکې قطع شوې وي). غور وکړئ:

- خلک یو ګواښ سره د مقابلې لپاره یا د ګواښ د اغېز سره مقاومت یا یې کمولو لپاره د کومې پوهې، مهارتونو، سرچینو او قوتونو څخه کار اخلي؟ دا ظرفیتونه چیرته/ولې ختم کړی شوی دي؟
- کوم ظرفیتونه په تر ټولو زیات اغېزمن ډول مشخص ګواښونه (او د هغوی عواقب) کموي یا ورته غبرګون ښیي؟
- کوم موجود ظرفیتونه نه کارول کېږي او ولې؟ کوم ظرفیتونه په تېر وخت کې کارول شوي ولې ښایي اوس هېر شوي وي یا ورته لاسرسی نه کېږي؟

## سیمه ییز میکانزمونه، سیستمونه او ممثلین

په زیاترو حالتونو کې، اغېزمنو شوو نفوسونو به د ډلې په کچه د ګواښونو د مدیریت لپاره سیمه ییز مشرتابه سره د ارتباط، د خپلو ظرفیتونو په کار اچولو، سیستمونو یا کړنلارو جوړولو لپاره لارې موندلې وي. دا ډېره مهمه ده چې د بشري هڅو، ملي او نړیوالو هڅو د غبرګون نه علاوه ددې کچې په غبرګون ځان پوه کړی شي. غور وکړئ:

- د قوتونو او سرچینو هغه کوم ترکیب دی چې نفوس یې لري یا په احتمالي ډول د هغوی موقعیت ته لاسرسی لري؟
- آیا د مشرتابه یو داسې جوړښت رامخې ته شوی دی چې پرېکړې کوي، سرچینې اختصاصوي یا خپل حفاظتي اقدام کوي؟
- کولتوري، ټولنیز، ارتباطي ظرفیتونه څه دي یا هغه ظرفیتونه چې خدمتونو یا مشخصو ممثلینو سره تړون لري؟ کوم فعالیت کوي، موجود دي او/یا کارول کېږي؟ هغوی ښایي د وخت په تېرېدو څرنګه بدلون کړی وي؟

5 اساسي وظیفه لرونکي هغه کسان دي چې په خپله سیمه یا حقوقي منطقه یا واک کې د افرادو د حقونو د احترام، ساتنې او پوره کولو مکلفیت او مسوولیت په غاړه لري. د نړیوال قانون لاندې، د دولت د ټولو کچو چارواکي اساسي وظیفه لرونکي دي. برسېره پر دې، د شخړو ټول ریاستي او غیر ریاستي طرفونه د نړیوال بشري قانون لاندې اضافي مسوولیتونه لري. (د ICRC مسلکي معیارونه، 2018:11)

## اداري، نور میکانزمونه، او د غبرګون ظرفیتونه

د حفاظتي ګواښونو د حل کولو لپاره د عمومي ظرفیتونو ارزول داسي معلوماتو ته اړتیا لري چې په هغه حد ځان پوه کړی شي تر کومه چې رسمي او غیر رسمي وظیفه لرونکي د غبرګون ښودلو لېوالتیا یا توان لري، او همداراز د نورو ممثلینو هغه ظرفیت چې په خطر اثر و رسوخ لري.

- وظیفه لرونکی/مسوولو اداره تر کومه حده د مداخلې کولو توان یا لېوالتیا لري؟
- کوم موجود ملي یا رسمي میکانزمونه شته چې ګواښ حل کوي؟ آیا د حفاظت یا یو تاثیر لرونکي حل لارې برابرولو نور غیر رسمي میکانزمونه شته؟ دا میکانزمونه په نفوس څه اغېزې لري؟
- اوسمهال موجود بشري، پرمختیايي او نړیوال سیاسي یا حقوقي ظرفیتونه یا د غبرګون میکانزمونه څه دي؟
- د نورو ممثلینو (په ګډون د بشري، پرمختیايي، سولې د ممثلینو) ظرفیتونه، سرچینې او نسبي فایدې څرنګه دي لپاره کارول کېدلی شي چې د اغېزمن شوو خلکو او سیمه ییزو او ملي سیستمونو موجود ظرفیتونه پراخ کړی شي، او د حفاظتي نتیجو لاسته راوړلو لپاره ګواښونه او آسیب پذیری کم کړی شي؟




څه راوسپړل شي؟

د مختلفو ممثلینو د غبرګون د اداري او غبرګون د ظرفیتونو واضح بیان ددې خبرې د یقیني کولو لپاره مهم دي چې ستاسو ستراتیژۍ په موجودو ظرفیتونو سترګې پټې نکړي او نه یې تکرار کړي.

تحلیل باید د بدلون د تیوریو د معلوماتو ورکولو کې مرسته وکړي تر څو د Protection Egg د اقدام د درې کچو سره د حفاظتي اقدام مرسته وکړي. لاندې لارښوونه وړاندیز کوي چې ددې ستنې لاندې معلومات څرنګه تنظیم کړی شي:

1. د ظرفیت مختلف اړخونه تل پېژندل شوي حفاظتي ګواښ او په ځانګړي ډول د ګواښ هر هغه عواقب چې د نفوس د هرې ډلې لپاره پېژندل شوي وي سره مربوط کړئ.
2. په ضمیمه 1 کې د مفاهیمو د میټریکس ټېب وګورئ تر څو هغه مفاهیم راوسپړئ چې حفاظتي ګواښ سره د اړوندو موجودو آسیب پذیریو او ظرفیتونو د تحلیل ترسره کولو لپاره فایده مند دي.
3. په مخکینۍ ستنه ("په اغېزمن شوي نفوس د ګواښ اغېزې") ددې پوهېدنې لپاره یوه پروسه شامله ده چې څه لامل دی چې په یو جغرافیایي موقعیت کې د نفوس یوه ډله په مشخص ډول د پېژندل شوي حفاظتي ګواښ په وړاندې آسیب پذیره ده؟ دا باید تاسو په هغو ظرفیتونو پوهېدنه کې مرسته وکړي چې کوم چې ددغه موقعیت او د نفوس د ډلې دننه د ګواښ د کمولو لپاره موجود وي. د هر یو ګواښ سره اړوندو ظرفیتونو او آسیب پذیریو ترمینځ یو معکوس ارتباط شته. د بېلګې په توګه، د یوې ډلې په خپلې مورنۍ ژبه کې معلوماتو ته د لاسرسي نشتوالی ددغې ډلې د یو خاص ګواښ په وړاندې آسیب پذیري زیاتوي په داسې حال کې چې په عین حال کې د ګواښ د حل لپاره د هغوی ظرفیت کموي. په ورته ډول، که چیرې د ګواښ په اړه معلومات د هغوی د خوښې ژبه کې په ګڼ شمېر طریقو موجود وي، نو ګواښ سره مقابلې لپاره د ډلې د ظرفیت د لوړېدو احتمال شته او د هغې په وړاندې د هغوی آسیب پذیري به کمېږي. د آسیب پذیرۍ او ظرفیت ترمینځ دا ارتباط د خطري معادله (جدول 2.9A) او ضمیمه 1 کې واضحه کړی شوی دی.

**جدول 2.9A د حفاظت د خطرې معادله (د InterAction څخه خپل کړی شوی)**



مونږ څه نتیجه ګیري کوو؟

دا ستنه باید د خلکو د ظرفیتونو، سیمه ییزو میکانزمونو، او د تاوتریخوالي او ناوړه استفادې د حل لپاره د جوړښت او غبرګون د ظرفیت د اوسني ترکیب په واضح ډول معلومولو لپاره تحلیلي نتیجې وړاندې کړي.

د حفاظت تحلیل باید د هڅو د تر ټولو زیات تاثیر لرونکي ترکیب په پوهېدنه کې ستاسو مرسته وکړي تر څو د نفوس په مختلفو ډلو او جغرافیایي موقعیتونو د تاوتریخوالي او ناوړه استفادې اوسني عواقب حل کړی شي. په دې کې ظرفیت او غبرګون کې د موجودو تشو معلومول شامل دي.

نور سکټورونه او ډسپلینونه څه برابرولی شي؟

هغه ډاټا او معلومات کوم چې تاسو سره په موجودو ظرفیتونو پوهېدلو کې مرسته کوي ښايي د مختلفو سیکټورونو او ډسپلینونو څخه وي.

د ډاټا او معلوماتو احتمالي سرچینو کې شامل دي:

- روان بشري پروګرامونه (HNO/HRP/د بشري پروګرامونو تعقیب، د مراجعې حیثیت/راپورونه، او داسې نور)
- سیمه ییز "ناثبت شوي ظرفیتونه" (سیمه ییز همکاران، CBOs/NGOs، ډیاسپورا شبکې، او داسې نور)
- IHL/IHRL (HC/RC، د IHL/IHRL، غیر دولتي موسسې، او داسې نور)
- د سیمه ییزو موسسو او بودیجې تحلیل (پرمختیایي پروګرامونه، د ظرفیت د ملاتړ پروګرام، د کلسترو ترمینځ ډاټا، او داسې نور).

## د دوامداره حفاظتي تحلیل لپاره مشورې

په څلورو ستنو (او د PAF د تحلیل کاري بهیر) کې تشریح شوې سازماني پروسه د حفاظتي تحلیل د پروسې د یو څرخ سره مطابقت لري. هر ځل چې تاسو پروسه بشپړوئ، نو هغې ته (په غیر رسمي یا رسمي توګه) له کلیدلي شریکوالو سره بیاکتنه وکړئ. هغوی ته موقعه ورکړئ چې په دې اړه نظر ورکړي چې تحلیل په راتلونکي کې څرنګه زیات مؤثر او اغېزمن کېدلی شي.

د ټولې پروسې په اوږدو کې د هم رُتبه کسانو/شریکوالانو بیاکتنې ته ځای ورکړئ. دا د تحلیل اخیستل کېدل یقیني کوي، نو خلک پرې اقدام کوي، او دا د تحلیل کیفیت بهتروي، چې ځانګړی تمرکز به یې دې پړاوونو کې د شریکوالانو د اړوندو جوړو ښکېلول وي:

- د شرطونو د تعریفولو پر مهال، دا خبره یقیني کول چې د تحلیل شرطونه د عملي اړتیاو سره مرتبط وي.
- د تحلیل د پړاو پر مهال لږ تر لږه دوه ځلې. شریکوالو سره په وخت تماس کې شئ تر څو څنګه څنګه چې تاسو راسپړئ، تشریح کوئ، توضیح کوئ، تفسیر کوئ او توقع لرئ نو هغوی د خپل فکر نه خبر وساتئ. کله چې تاسو د تحلیل مسوده چمتو کړئ ولې مخکې له دې چې شریکه شي، نو یو ځل بیا ورسره په تماس کې شئ تر څو په بیاکتنه او حسي کتنه وتوانېږي. که تاسو یوازې بشپړو اسنادو ته په بیاکتنه تمرکز کوئ، نو د شریکوالو په نظر معناداره اقدام لپاره به اکثر ډېر ناوخته وي.
- د تحلیل له شریکولو سمدستي وروسته داسې نظرونه راغونډ کړئ چې د ورپسې تکرار معلومات ورکولی شي.

زمان بندۍ او ترتیب تطبیق کړئ تر څو دا خبره یقیني شي چې تحلیل په وخت او ستاسو د هدفونو پوره کولو لپاره مربوط وي. په ځانګړي ډول، کله چې د خپل تحلیل او د تحلیلي محصولاتو د خپرولو لپاره وختونه ټاکئ نو د پرېکړو کولو او مهالویشونو په مهمو لمحو غور وکړئ. یعنې دا چې، که هدف دا وي چې یوې میاشتنۍ د همغږۍ غونډې ته معلومات ورکړئ کومه چې د هرې میاشتې د اخري چارشنبې په ورځ ترسره کېږي نو بیا به د هرې دریمې میاشتې په لومړۍ دوشنبه د راپور ورکول ډېره کمه معنا ولري. د څرخ د هر قدم زمان بندي داسې وکړئ چې:

- یقیني کړئ چې محصولات په داسې وخت چمتو وي چې هغه مخاطبینو لپاره تر ټولو زیات ګټور وي.
- کلیدي شریکوالو سره د هغوی په شرایطو په شرایطو کې خبرې اترې وکړئ، کله چې هغوی تر ټولو زیات د خبرو اترو توان لري.
- یقیني کړئ چې د سرچینې راپورونه (لکه د حفاظت د خارني راپورونه او د OCHA میاشتنې اپډیټونه) موجود وي او تحلیل کې ترې کار اخیستل کېدلی شي.


# تحلیلي نتیجې:

## د حفاظت تر ټولو زیاتي مهمې خطرې او عواقب

دا ولې مهم دی؟

حفاظتي تحلیل د حفاظت د لومړیتوب والا خطرو د معلومولو او د غبرګون د ستراتیژیو د جوړولو لپاره وکاروئ، په کوم کې چې د لومړیتوب د خطرې په اړه د ستونزې د حل کولو لپاره د کلیدي ممثلینو په حرکت کې راوستل شامل دي. دا قدم د حفاظتي خطرو د یو ژور تحلیل لپاره د هرې ستنې څخه د تحلیل موندنې ترکیبوي. جدول 2.10A ښکاره کوي چې د هرې ستنې تحلیلي نتیجې څرنګه باید د عمومي تحلیلي نتیجو په اخیستلو کې لاربښوونه وکړي.

جدول 2.10A د تحلیلي نتیجو PAF ترتیب




کومې کلیدي پوښتنې ویوښتل شي؟

پوښتنې څه؟ چاته؟ ولې؟ کله؟ او څرنګه؟ باید د معلوماتو د ترتیبولو او د حفاظت د تحلیل د نتیجو د وړاندې کولو لپاره وکارول شي.

PAF د لومړیتوب والا حفاظتي خطرونو په پېژندنه، د رامینځته کېدونکو ارتیاو او وضعیتونو ته لومړیتوب ورکولو، او د راتلونکي د حفاظتي خطرو په توقع کې لاربښوونه کوي. په دې پړاو کې پوښتنې باید د ځوابونو ورکولو په لور بوتللې شي:

- د نفوس پېژندل شوي ډلې په هر جغرافیایي موقعیت کې د کومو حفاظتي خطرو سره مخ وي؟ دا خطرې څرنګه په متاثره شوو ډلو په توپیر سره اغېز کوي؟
- د ګواښونو، آسیب پذیرۍ او ظرفیتونو څرنګه او کوم مختلف فاکتورونه هغو حفاظتي خطرو کې د خپلې برخې کار کوي کومې چې د نفوس په ډلو اغېز کوي؟
- د پېژندل شوو حفاظتي خطرو د حل کولو لپاره د مشخصو مسوولیتونو لرونکو ممثلینو ژمنتیاوې او ظرفیتونه څه دي؟
- ددغو خطرو د کمولو او د هغوی د شدت نه ژغورلو لپاره تدابیر (او پوښښ او حیثیت) څه دي، په ګډون د سرغړاویو د درولو او مخنیوي کولو؛ د تاوتریخوالي، جبر یا عمدي محرومۍ د موجودو نمونو د قوي کېدنې څخه ژغورل؛ او د خلکو په ژوند کې خوندیتوب او کرامت بېرته برقرارول؟6

6 د IASC حفاظتي تکلاره (2016:3)



خه راوسپړل شي؟

د هر پېژندل شوي حفاظتي ګواښ شاوخوا ټول معلومات تنظیمول. د غوره کړی شوي تحلیل کچه (ټولنه، د سیمې پر اساس، ملي، او داسې نور) باید تحلیل لپاره د آلاتو، میتودونو او ابزارو د انتخاب محرک وي. په ګلي ډول، د PAF د بنیادي منطق سره سم، د تحلیل پروسه باید په دې په غور وکړي چې آیا حفاظتي ګواښ:


- په ګڼ شمېر موقعیتونو اغېز کوي
- په مختلفو موقعیتونو کې د نفوس مشخصو ډلو لپاره هماغه یو ډول عواقب لري
- په مشخصو ډلو په توپیر سره اغېز کوي (د بېلګې په توګه، آیا د ملیشې د پوستو موجودګي په خلکو په موقعیت الف کې د موقعیت ب نه څخه په توپیري ډول اغېز کوي؟ آیا دا په سړو او ښځو په توپیري ډول اغېز کوي، یا د اتنیکي ډلو په مختلفو غړو په توپیري ډول؟)

په هر جغرافیایي موقعیت کې د نفوس اغېزمنو ډلو لپاره موجود د آسیب پذیریو او ظرفیتونو ترکیب تحلیل کړئ.7 هره فرعي ستنه کې باید اولنی ډاټا او معلومات شامل وي، حتا تر دې چې که د معلوماتو ټولې اړتیاوې باید تحلیل کړی شي.

د یوې ګډې موخې یا فایدې لپاره د بېلابېلو شریکوالو ترمینځ ګډ کار کې ګډ تحلیل او اقدام شامل دي.8 په متقابله توګه، د تحلیل پروسه به هغه وخت کې زیات قوي نتایج تر لاسه کړي که چیرې د شریکو موخو د لاسته راوړلو لپاره د همغږي اقدام په لور رهبري کړی شي (د ګڼ شمېر ممثلینو د هویتونو او نسبي فایدو پر اساس). په دې کې، د بېلګې په توګه، د ځانګړو ګډ اقدامات، د غبرګون تطبیق، د معلوماتو همغږي شوي فعالیتونه، د کلستر ښکیلتیا او وکالت شامل دي. د یو بل سره مربوطو ستونزو پېژندنه، په ګډون د هغو چې هماغه یو ډول سببونه لري یا یې نه لري او/یا د هماغه یو ډول ډینامکونو څخه رامینځته کېږي، باید د لومړیتوبونو د ټاکلو او مناسبو ستراتیژیو د طرحه کولو پر مهال په نظر کې ونیول شي.9

جدول 2.11A د PAF د تحلیلي نتایجو د ترتیبولو د پروسې یوه بېلګه وړاندې کوي، د هغو معلوماتو په کارولو سره چې په مخکینیو قدمونو کې تر لاسه کړی شوي او تحلیل شوي وي.

**جدول 2.11A د PAF د تحلیلي پروسې عمومي بېلګه**




7 "د آسیب پذیریو د ټاکونکو د معلوملو لپاره ایکولوژیکي موډل د ټولنیزو علمونو په څېرنه کې په پراخ ډول کارول کېږي او په پرله پسې توګه په بشري او پرمختیایي سیاق و سباق کې په یو ډول د حفاظتي ممثلینو لخوا تطبیقېږي." په عاجلو وضعیتونو کې د قاچاق مخنیوی: د معلوماتو د مدیریت لارښود، IOM (2020:42).

8 د ICRC مسلکي معیارونه (2018:47)

9 د ICRC مسلکي معیارونه (2018:41)